د افغـــانستان اســـلامي امـــارت
د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

---

۲۱ / رجب المرجب/۱٤٤٥هـ، ق موافق ۱۳ / دلو/۱۴۰۲هـ،ش

# زکاة د اسلام یو مهمه فریضه ده ، چې په نه ورکولو کې یې سختې سزاګانې بیان شوي دي.

**بسم الله الرحمن الرحیم**

إن الحمد لله، نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا و سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين وسلم تسليماً كثيراً، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: (إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ) التوبة : ٦٠

که مونږ په مال کې فکر وکړو ، نو پوهیږو چې مال په حقیقت کې د الله تعالی ملکیت دی او مال د ژوند لپاره وسیله ده او د ژوند هدف نه دی او د خلکو د بهترۍ معیار ددوی اعمال دي نه ددوی اموال، همدا راز مال په عین وخت کې فتنه او امتحان دی د مالدار لپاره یې شتون امتحان دی او د فقیر لپاره د مال نه شتون امتحان دی.

له بلی خوا الله تعالی انسانان یو شان نه دي پیدا کړي ځینې یې مالداره او غنیان پیداکړي دي او ځینې نور یې فقیران او مسـکینان پیدا کړي دي لکه چې الله تعالی فرمایلي دي : (نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا) [الزخرف:۳۲]

ترجمه:- مونږ د دوی په مینځ کې په دنیایي ژوند کې د دوی معشیت تقسیم کړی دی.

په بل مبارک آیت کې راځي: (وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ) [النحل:۷۱].

ترجمه:- او الله ستاسو ځینې په ځینو نورو باندې په رزق کې غوره کړي دي.

چې په دې کې دالله تعالی لوی او عظیم حکمت پروت دی هغه دادی چې فقیران او مالداران یې یو بل ته محتاج ګرځولي دي ترڅو د ژوند او زندګۍ مشین په حرکت راشي.مثلا مالدار یې د فقیر انرژۍ اوکارته محتاج کړی دی او فقیر یې د مالداره پیسو او مال ته محتاج کړی دی.

له دې څخه علاوه فقیر او مسکین لره یې د مالداره او سرمایه داره په مال کې واجبي حق مقرر کړی دی چې هغه زکات دی.

زکات د فقیر او مسکین حق دی او دا د مالداره له خوا کومه ډالۍ او مهرباني نه ده ؛ بلکې دا د فقیرانو واجبي حق دی

په غنیانو باندې او الله تعالی انسـاني ټولنه د یو کور په شـان پیداکړی ده چې یو به د بل کفالت کوي او حاجتونه به یې پوره کوي.
لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:( وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ .لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ) المعارج: (۲۵)
ترجمه: - او هغه کسان چې د دوی په مالونو کې معلومه برخه (مقرر) ده د سوالگر او محروم لپاره.
نو په دې جمعه کې زمونږ د تقریر او بیان موضـوع زکاة ده او زکاة د اسـلام یوه مهمه فریضـه ده ، چې په نه ورکولو کې یې سختې سزاگانې بیان شوي دي.

**د زکاة حکم:**

زکاة داسـلام دریم اهم او عملي رکن دی او د اسـلام مهمه فریضـه ده د هجرت په دوهم کال د شـوال په میاشـت کې فرض کړل شوی دی. زکاة هغه دیني فریضه ده چې په ټولو اسماني ادیانو کې موجود وه.
او زکاة په کتاب الله او نبوي سنتو او د امت په اجماع سره فرض دی.
الله تعالی فرمایلي دي:{وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ } البقرة : ٤٣
ترجمه:- او لمونځ قایم کړئ، زکات ورکړئ اوکوم خلک چې رکوع کوي(ماته سر ټیټوي) تاســو هم د هغوی سره رکوع وکړئ.
په یو بل مبارک آیت کې راځي:{ وَأَقِيمُوا الصَّــلاَةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُوا لأَنْفُسِــكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ }البقرة: (۱۱۰)
ترجمه:- و تاســو لمونځ قایموئ او زکات ورکوئ، او هر هغه خیر (نېکي) چې تاســو یې د خپلو ځانونو لپاره مخکې لېږئ، هغه به له الله سره ومومئ، بېشکه الله هغه عمل لره ښه لیدونکی دی چې تاسو یې کوئ.
د زکاة کلمه په قرآن کریم د لمانځه له کلمې سره دوه اتیا (۸۲) ځای پیوســته او مقرون ذکر شــوی ده چې د زکاة داداء کولو پر اهمیت او ضرورت دلالت کوي.
په یو بل آیت کې الله تعالی خپل پیغمبر ته امر کړی دی چې له دوی څخه زکاة واخله :(خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاَتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ}التوبة : ۱۰۳
ترجمه:- ای پیغمبره! ته دهغوی له مالونو څخه د زکات په اخیســتلو سره هغوی پاک کړه او ددوی لپاره د رحمت دعا وکړه ځکه چې ستا دعا دهغوی لپاره د ډاډینې وسیله ده، الله هرڅه اوري او په هرڅه پوهیږي .
همدا رنگه د پیغمبرعلیه الســلام په زمانه کې د کفر څخه دتوبې لپاره دری شرطونه ذکر شــوي دي چې یو په کې زکاة دی.: {فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصلاةَ وَءاتَوُاْ الزكاةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ} التوبة:٥
ترجمه:- که چیرې دوی توبه وویستله او لمونځ یې وکړ او زکات یې ورکړ نو بیایې لاره پریږدئ.
زکات د اســلامي ورور ولۍ لپاره علامه گرځول شــوی دی.:{فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصــلاةَ وَءاتَوُاْ الزكاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ} التوبة:۱۱
په حدیث شریف کې راځي : د زکات په اړه پیغمبرعلی السلام فرمایلي دي:(بُنِي الا سلاَمُ على خَمسٍ : شُهَادَةِ أن لاإلَهَ إلاَّ اللهُ وَ أنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ، وَ إقَامِ الصَّلاَةِ، وَإيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَومِ رَمَضَانَ). متفق علیه

ترجمه:- ر سول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل : ا سلام په پنځو بنـ ستیونو ولاړ دی: ګواهی ورکول دي چې د الله نه پرته بل هیڅ برحق معبود نشـته او محمد د الله رسـول او رالیږلی دی . دلمانځه قایمول، زکات اداء کول، د بیت الله حج کول او د رمضان د میاشتې روژه نیول دي .

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ رضي الله عنه یمن ته لیږلو ورته یي داسې نصیحت وکړ:( فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ فِي فُقَرَائِهِمْ). سنن أبی داود-ن (٢/ ١٦).

ترجمه:- بیا دوی پوهه کړه چې الله تعالی فرض کړی دی پر دوی زکات ددوی په مالونو کې ، اخیســتل کیږي به ددوی له غنیانو څخه او ورکول کیږي به فقیرانو ددوی ته.

## د زکاة ورکولو فضیلت او اهمیت:

**١-** الله جل جلاله د شرک څخه توبه ویســتل، د لمانځه اداء کول او د زکاة ورکول د اســلام عنوان ګرځولی دی او دا درې واړه یې داســلامي اخوت او وروړګلوۍ لپاره شرط ګرځولی دی. الله تعالی فرمایلي دي: (فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّــلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ) [التوبة: ١١].

ترجمه:- نو که دوی توبه وباسي او لمونځ قایم کړي او زکات ادا کړي، نو بیا ستاسو وروڼه دي په دین کې.

**٢-** زکاة د ایمان نښــه او د اخلاص کلک دلیل دی او پرته له زکاة ورکولو څخه انســان د هغو مؤمنانو په ډله کې نه شـامليږي چې الله تعالی ورته د فلاح او د فردوس اعلی وعده ورکړی ده. الله تعالی فرمایلي دي: (قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ ... وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ) [المؤمنون: ١-٤].

ترجمه:- یقیناً مومنان کامیاب شول او هغه چې هغوی د زکات ادا کوونکي دي.

## د زکاة نه ورکولو سختې سزاګانې:

ځینې خلک د زکات ورکولو په اړه دومره بې تفاوته وي چې ته به فکر کوی چې دا کوم مـستحب یا مندوب عمل دی او یا هم زکاة ورکول د عام خیرات ورکولو په شـان حکم لري، حال داچې زکاة ورکول د اسـلام دریم رکن دی او په دې برخه کې سستي کول او یا بخل کول او زکاة نه ورکول په دې باره کې په قرآن کریم کې او نبوي احادیثو کې سخت وعیدونه او سختې سزا ګانې ذکر شوي دي.

- ✓ د زکاة نه ورکول کبیره ګناه ده او په اړه یې په ســخت وعیدونه راغلي دي. الله تعالی په قرآن کې فرمایلي دي چې کوم کســان زکاة نه ورکوي د آخرت په ورځ به په دغه مال باندې داغلی شي.الله تعالی فرمایلي دي: (وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّــةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَــبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُــم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ * يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَذَا مَا كَنَزْتُمْ لأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ) [التوبة: ٣٤-٣٥].

ترجمه:- او هغه کسان چې سره زر اوسپین زر خزانه کوي او هغه د الله په لاره کې نه لګوي، نو دوی ته د ډېر دردوونکي عذاب زیری ورکړه په هغې ورځ چې د جهنم په اور کې به دغه (خزانې) ښې ګرمې کړی شي، بیا به په هغې سره د دوی تندي او د دوی اړخونه او د دوی شاګانې داغلی شي (او دوی ته به ویلی شي:) دا هغه څه دي چې تا سو د خپلو ځانونو لپاره خزانه کړي وو، نو تاسو وڅکئ هغه څه چې تاسو خزانه کول.

✓ کوم کســان چې د بخل له وجې زکات نه ورکوي، د زکات مال به يې له مرۍ څخه را تاو شي او د مرۍ طوق به يې جوړ شي. الله تعالی فرمايلي دي: ( وَلا يَحْسَــبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آَتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْــلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالأرْضِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ). آل عمران:( ١٨٠)

ترجمه:- او هغه کسان، چې په هغه څه سره شومتيا (بخل) کوي چې الله دوی ته له خپله فضله ورکړی دی (دوی دې) له سره دا ګمان ونه کړي چې دا (شــومتيا کول) د دوی لپاره ډېر ښــه دي، بلکې دا د دوی لپاره ډېر بد دي، ژر ده چې د قيامت په ورځ به دوی ته هغه شی امېل کړی شي، چې په هغه سره دوی شومتيا کوله، او خاص الله لپاره د اسمانونو او ځمکې ميراث دی او الله پر هغو کارونو چې تاسو يې کوئ؛ ښه خبردار دی

جمهور مفسرين وايي چې دا آيت د زکات د مانعينو په حق کې نازل شوی دی.( روح المعاني (٤/ ١٤٠)

ابن عاشور د ( سَيُطَوَّقُونَ )په معنا کې ليکي: (أي تجعل أموالهم أطواقاً يوم القيامة فيعذّبون بحملها). التحرير والتنوير (٣/ ٣٦٦)

يعنی وبه ګرځولی شي مالونه ددوی په مرۍ کې طوق د قيامت په ورځ کې او ددې په حمل کولو سره په عذابيږي.

امام طبري ددې کلمې په معنا کې وايي: (ســيجعل الله ما بخل به المانعون الزكاة، طوقًا في أعناقهم كهيئة الأطواق المعروفة) تفســير الطبري (٧/ ٤٣٣) زر دی چې وبه ګرځوي الله هغه مال چې بخل ور باندې کړی ؤ د زکات نه ورکوونکو طوق ددوی په غاړو کې لکه د معروف طوق په څير.

✓ کوم کس چې زکاة نه ورکوي دا مال به د قيامت په ورځ د خپل مالک څخه راتاو شي او هغه به چيچي. په حديث شريف کې راځي: (عن أبي هريرة رضي الله عنه قال:قال رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم:«مَن آتَاهُ اللهُ مَالاً فَلَم يؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يومَ القِيامَةِ شُــجَاعاً أقرَع، لَهُ زَبِيبَتَانِ، يطَوَّقُهُ يومَ القِيامَةِ ،ثُمَّ يأخُذُ بِلِهزِمَتَيهِ يعني بشــدقيه ثُمَّ يقُولُ:أنَا مَالُکَ، أنَا كَنزُکَ،ثُم تَلاَ:(وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ...).رواه البخاري

ترجمه:- له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : يوه چا ته چې الله پاک ډېر مال ورکړی وي او هغه يې د مال زکات نه ورکوي، د ده دغه مال به د قيامت په ورځ د يوه ګنجي مار په بڼه ( هغه مار چې په سريې ويښــته نه وي او دا د ده د زهر لرلو نښــه ده ) وګرځي او دا مار به دوه غابښــونه لري هغه به د قيامت په ورځ ترخپل ملګري حلقه شي او بيا به هغه په دواړو ژامو ونيسي او بيا به ورته وايي : زه ستا مال يم او زه ستا خزانه يم او بيا يې دغه مبارک آيت تلاوت کړ: (وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ) .

✓ کوم انسان چې د سرو او سپينو زرو څخه زکاة نه ورکوي د قيامت په ورځ به دا سره زر او سپين ورته د اور تختې شي او د دوزخ په اور به ګرمې شي د ده ډډه او تندى به پرې داغل کيږي. او څوک چې د حيواناتو څخه زکات نه ورکوي د قيامت په ورځ به دغه حيوانات ورباندې په پښــو خيژي او خوله به ورباندې لګوي. په يو حديث پيغمبر عليه الســلام فرمايي: (عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال ر سول الله صلى الله عليه و سلم :مَامِن صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلاَ فِضَّةٍ لاَيؤَدِّي مِنهَا حَقَّهَا ؛ إلاَّ إذَا كَانَ يومُ القِيامَةِ صُــفِّحَت لَهُ صَــفَائِحُ مِن نَارٍ، فَأحمِي عَلَيهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فيكوَي بِهَا جَنبُهُ وَجَبِينُهُ وَ ظَهرُهُ ؛ كُلَّمَا بَرَدَت أعِيدَت لَهُ في يوم كَانَ مِقدَارُهُ خَمسِينَ ألفَ سَنَةٍ حتى يقضَي بَينَ العِبَادِ؛ فَيرَي سَبِيلَهُ : إمَّا الى الجَنَّةِ وَإمَّا الى النَّارِ. قِيلَ يَا رَسُــولَ اللَّهِ فَالإِبِلُ قَالَ: وَلاَ صَــاحِبُ إِبِلٍ لاَ يُؤَدِّى مِنْهَا حَقَّهَا وَمِنْ حَقِّهَا حَلَبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا إِلاَّ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ أَوْفَرَ مَا كَانَتْ لاَ يَفْقِدُ مِنْهَا فَصِيلاً وَاحِدًا تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَعَضُّهُ بِأَفْوَاهِهَا كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولاَهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا فِى يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيُرَى سَبِيلُهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ . قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَالْبَقَرُ وَالْغَنَمُ قَالَ: وَلاَ صَاحِبُ بَقَرٍ وَلاَ غَنَمٍ لاَ يُؤَدِّى مِنْهَا حَقَّهَا إِلاَّ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ

قَرْقَرٍ لاَ يَفْقِدُ مِنْهَا شَـيْئًا لَيْسَ فِيهَا عَقْصَـاءُ وَلاَ جَلْحَاءُ وَلاَ عَضْـبَاءُ تَنْطِحُهُ بِقُرُونِهَا وَتَطَؤُهُ بِأَظْلاَفِهَا كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولاَهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَـنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيُرَى سَـبِيلُهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ ).
صحيح مسلم (۳/ ۷)

ترجمه: - له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم وفرمايل : هيڅ د سرو زرو او سـپين زرو څښـتن نشـته چې دهغه حق (زکات) نه ورکوي مگر دا چې د قيامت په ورځ به ورته د اور تختې شي او د دوزخ په اور به گرمې شي د ده ډډه او تندي به پرې داغل کيږي او کله چې دا تختې يخې شي بيا به گرميږي په هغه ورځ چې اندازه يې پنځوس زره کاله ده، ترڅو د بندگانو ترمنځ حکم وشي او پس وبه ليدل شي دده لاره يا د جنت يا دوزخ په لور. د ر سول الله ﷺ د ار شاد اوريدو سره يو ښتنه و شوه چې ای دالله ر سوله ! دا حکم خود زرو دی د او ښانو څه حکم دی؟ ر سول الله ورته وفرمايل : د او ښانو خاوند هم که هغه د او ښانو حق (زکات) ادا نه کړي؛ او د هغې له حق څخه د هغې لوشل دي په ورځ د اوبه کولو کې( يعنې د هغې د مستحب څخه دا هم دي چې ولوشل شي په وخت د اوبه کولو ترڅو اوبو ته راتلونکو او په اوبو تيريدونکو ته ورکړي)، نو د قيامت په ورځ به د اوښانو خاوند پړ مخی باندې اوښانو مخکې په يو هوار ميدان کې را وغورزول شي او د هغه ټول اوښـان سره د بچيانو به هلته موجود وي يعني په شـمير به پوره وي او د اوښـــانو خاوند به په هغوی کې يو هم کم پيدا نه کړي، تر دې چې يو بچی به يې هم کم نه وي او دا او ښان او بچي به ښه ځاربه وي خپل خاوند به تر پښو لاندې ميده کوي او په خپلو غا ښو سره به يې چيچي او هر کله چې د اوښـانو يو قطار د ميده کولو او چيچلو څخه وروسـته ولاړ شي نو دوهم قطار به راشـی او خپل خاوند به تر پښـو لاندې ميده کوي او په غاښـونو به يې چيچي او هميشـه به ورسره داسـې کيږي او په کومه ورځ چې به داسـې کيږي د هغې ورځې اندازه به پنځوس زره کاله وي؛ تر څو چې د بندگانو په منځ کې پريکړه و شي او هغوی به دوزخ او يا جنت ته ولاړ شي ، د دې په اوريد و سره د ر سول الله ﷺ څخه يو ښتنه و شوه اي دالله ر سوله ! د غواوو او د پسونو د خاوند به څه حال وي ؟ رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم ورته وفرمايل څوک چې د هغوی حق (زکات) نه ادا کوي د قيامت په ورځ به په هوار ميدان کي پړ مخی څملولی شي،
او د هغه غواوو او پسـونو څخه به هيڅ شـی کم نه وي او د هغوی ښـکرونه به غونډ نه وي او نه به مات وي او نه به په هغوی کې بې ښـکره وي يعني د ټولو پر سرونو به ښـکرونه وي او سـالم به وي دا غواوي او پسـونه به خپل خاوند په ښـــکرو وهي او په خپلو نوکانو سره به يې نوکاري کوي او هر کله چي يو قطار خپل کار وکړي هغه چې لاړ شي نو دوهم قطار به راشي خپل کار به کوي او همداســې به کيږي او په کومه ورځ چې دا کار کيږي د هغې ورځې اندازه به پنځوس زره کاله وي تر څو چې د بندگانو په منځ کې پريکړه و شي او هغوی به پر خپله خپله لارجنت او دوزخ ته ولاړ شي .

- ✓ زکات نه ورکوونکی شـخص چې کله عذاب درک کړي د رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم څخه به د شـفاعت غوښـتنه وکړي مگر رسول الله صلی الله عليه وسلم به يي له شفاعت څخه انکار وکړي. په يو حديث شريف کې راځي: عن أَبَی هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَأْتِي الْإِبِلُ عَلَى صَاحِبِهَا عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ إِذَا هُوَ لَمْ يُعْطِ فِيهَا حَقَّهَا تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَأْتِي الْغَنَمُ عَلَى صَــاحِبِهَا عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ إِذَا لَمْ يُعْطِ فِيهَا حَقَّهَا تَطَؤُهُ بِأَظْلاَفِهَا وَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا وَقَالَ وَمِنْ حَقِّهَا أَنْ تُحْلَبَ عَلَى الْمَاءِ قَالَ وَلَا يَأْتِي أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِشَــاةٍ يَحْمِلُهَا عَلَى رَقَبَتِهِ لَهَا يُعَارٌ فَيَقُولُ يَا مُحَمَّدُ فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ بَلَّغْتُ وَلَا يَأْتِي بِبَعِيرٍ يَحْمِلُهُ عَلَى رَقَبَتِهِ لَهُ رُغَاءٌ فَيَقُولُ يَا مُحَمَّدُ فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ مِنْ اللَّهِ شَيْئًا قَدْ بَلَّغْتُ) . صحيح البخاري ت (۳/ ٤٠٨)

ترجمه:- ابو هريره رضي الله عنه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: اوښ به راشي خپل مالک ته په ښه حالت کې(د ښه قوت او طاقت حالت کې) کله چې هغه يې نه وي ورکړی دهغې حق (زکاة) د پښو لاندې کوي به يي او د پاسه به ورباندې خيژي او را به شي گډ خپل مالک ته په ښه حالت کې (قوت او طاقت په حالت کې) کله چې مالک

يي حق نه وي ورکړی (زکاة يي نه وي ورکړی) په خنګرو سره به وربانديږ وخيژي او د پښـــو لاندې به يي کړي او په ښکرو سره به يې وهي او دهغې حق دادی چې لو شل شوی وای په اوبو باندې (يعنې لو شل شوی وای ددې لپاره چې شيدې يې مسافرو او هغه مسکينانو ته ورکړې وای چې اوبو ته راځي) راوي وايي او نه به راځي يو دستاسې نه په ورځ د قيامت په پســه سره چې په اوږه کړی به يې وي او هغه به آواز کوي. دا شــخص به ووايي ای محمد صــلی الله عليه وسلمه!(زما شفاعت وکړه) زه به وايم زه ستا لپاره د هيڅ شي اختيار نلرم يقيناً ما خپله خبره رسولی وه او نه به راځي په اوښ سره چې په اوږه کړی يه يي وي هغه به آواز کوي . بيا به ووايي( شخص) ای محمد صلی الله عليه و سلمه ! (زما شفاعت وکړه) زه به وايم زه ستا لپاره د هيڅ شي اختيار نلرم بيشکه ما خپله خبره رسولی وه.

- ✓ د زکات په نه ورکوونکي باندې رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم لعنت ويلی دی. په حديث شريف کې راځي: (عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَ سُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ لَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ وَ شَاهِدَيْهِ وَكَاتِبَهُ وَالْمُحِلَّ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ وَالْوَا شِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ وَمَانِعَ الصَّدَقَةِ). مسند أحمد (٢/ ٤٦٢)

ترجمه:- د علي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم لعنت ويلی دی پر سـود خور او سود ورکوونکي باندې او د سود پر شاهدانو باندې او د سود په ليکونکي باندې او په حلاله کوونکي باندې او پر هغه چاچې حلاله ورلره کيږي او خال لږونکي باندې په هغه چا چې د خال لږولو غوښـــتونکي وي او د زکات په منع کوونکي باندې.

په يو بل روايت کې علی کرم الله وجهه فرمايې: (عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضی الله عنه قَالَ لُعِنَ مَانِعُ الصَّدَقَةِ). رواه الترمذي

ترجمه:- حضرت علی رضي الله عنه فرمايلي دي ملعون دی د زکات نه ورکوونکی.

- ✓ د زکات په ورکولو سره مال او دولت په مختلفو عذابونو سره هلاک کيږي او له منځه ځي. په حديث شريف کې راځي: (عن عبادة بن الصامت قال : أتي ر سول الله صلى الله عليه و سلم وهو قاعد في الحطيم بمكة فقيل يا ر سول الله أتى على مال فلان نسيف البحر فذهب به فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم ما تلف مال في بحر ولا بر إلا بمنع الزكاة فحرزوا أموالكم بالزكاة). مسند الشاميين للطبراني (١ /٣٤)

ترجمه:- عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې راغلم رسول الله صلی الله عليه وسلم خواته او هغه په حطيم کې ناست ؤ په مکه کې .

هغه ته وويل شول ای د الله رسوله! د فلاني په مال باندې چپه د بحر او هغه يي له منځه وړی دی بيا رسول الله صلی الله عليه وسـلم وفرمايل: نه تلف کيږي مال نه په بحر کې او نه په وچه کې مګر د زکات د منع کولو په سـبب سره ، نو حفاظت وکړئ د خپلو مالونو د زکات په ورکولو سره.

- ✓ زکات نه ورکول د مشرکانو خوی او خصـلت دی، او په زکات نه ورکولو سره ځان د مشرکانو سره مشابه کول دي. الله تعالی فرمايلي دي: ( وَوَيْلٌ لِلْمُشْرِكِينَ * الَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ) [فصلت: ٦، ٧].
- ✓ زکات نه ورکول د نفاق علامه ده او زکات نه ورکول د نفاق له موجباتو څخه دي: الله تعالی فرمايلي دي: :( وَلَا يُنْفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ). [التوبة: ٥٤]
- ✓ څوک چې زکات نه ورکوي په قيامت کې به رسول الله صلی الله دهغه شفاعت نه کوي؛ لکه چې په پورتنيو حديثونو کې ذکر شول: (وَلَا يَأْتِي بِبَعِيرٍ يَحْمِلُهُ عَلَى رَقَبَتِهِ لَهُ رُغَاءٌ فَيَقُولُ يَا مُحَمَّدُ فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ مِنْ اللَّهِ شَيْئًا قَدْ بَلَّغْتُ) . صحيح البخاري ت (٣/ ٤٠٨)
- ✓ زکات نه ورکول د باران د نه کيدو او وچکالی سبب کيږي.په حديث شريف کې راځي: عن بُرَيْدة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (ما منَعَ قومٌ الزكاة، إلا ابتلاهم الله بالسنين) رواه الطبراني في الأوسط، ورواتُه ثِقات.

ترجمه: هيڅ قوم زکات لره نه منع کوي مګر الله تعالی به يي په وچکالی وازمايي.

## د زکات ورکولو مقاصد :

زکات په اسلام کې د زیاتو مقاصدو لپاره مشروع شوی دی چې ځینې یې په لاندې ډول دی:
۱- د زکات ورکول د الله تعالی بندګي او حکم پرځای کول دي: دا په دې معنا چې الله تعالی پر مسلمان فرض کړې دي چې لکه د لمانځه په شان زکاة هم اداء کړي ، نو څوک چې زکاة اداء کوي په حقیقت کې دالله تعالی حکم پرځای کوي او اطاعت او بندګي کوي چې همدا د مسلمان دنده او وظیفه ده. (إنمَّا يَعمُرُ مَساجِدَ اللَّـهِ مَن آمَنَ بِاللَّـهِ وَاليَومِ الآخِرِ وَأَقامَ الصَّلاةَ وَآتَى الزَّكاةَ وَلَم يَخشَ إِلَّا اللَّـهَ).التوبة: (۱۸) ترجمه: د الله جوماتونه خو یواځې هغه څوك ابادوي چې پر الله او د اخرت پر ورځ یې ایمان راوړی وي او لمونځ قایموي او زکات ورکوي او نه وېرېږي غیر له الله نه.

۲- د زکات ورکول د الله تعالی پر مالي نعمت شکر ویستل دي: کله چې مسلمان د خپل مال څخه زکاة وباسي په حقیقت کې دا د الله تعالی د نعمت شکر ادا کوي او د هغه په فضل او کرم باندې اعتراف کوي.

۳- د زکات ورکول له ګناهونو څخه پاکوالی دی: کله چې مسلمان د خپل مال څخه زکات وباسي ، دا ددې سبب دی چې الله تعالی به دده ګناهونه وبښي او له جهنم څخه به ورته نجات ورکړي؛ چې دا مطلب په دې آیت شریف کې ذکردی: (خُذ مِن أَموالِهِم صَدَقَةً تُطَهِّرُهُم وَتُزَكّيهِم بِها). التوبة: (۱۰۳)

۴- د زکات ورکول بخل او کنجوسي له منځه وړي: بخل او کنجوسي ډېر بد مرضونه دي کله چې بندهورباندې مبتلا شي زړه یې په دنیا کې پورې وتړل شي او له آخرت څخه غافله شي ،نو زکات ورکول د بخل او کنجوسۍ څخه د خلاصون سبب ګرځي او بیا یې په زړه کې د دنیا سره علاقه کمیږي او دالله په لاره کې نور انفاق هم کوي.

۵- د زکاة ورکول د مال د پاکوالي او زیادت سبب ګرځي: د زکاة ادا کول د پاتې مال د پاکوالي او زیادت سبب ګرځي، ځکه کله چې په مال کې د بل چا حق تړاو ونیولو، مال ملوث شو او شکمن شو کله چې پردی حق ورڅخه وویستل شو نو مال پاک شو او هم مال زیاتیږي .الله تعالی فرمایلي دي: ( يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبا وَيُرْبِي الصَّـدَقَاتِ وَاللَّهُ لا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ). البقرة: (۲۷۶)

ترجمه:- الله سود محوه کوي او خېراتونه (صدقې) زیاتوي، او الله هېڅ یو سخت ناشکره، سخت ګناهګار نه خوښوي.

٦- د زکات په ورکولو سره د فقیرانو سره مرسته کیږي او د هغوی زړونه د حسد څخه پاکیږي: ځکه چې د زکات په ورکولو سره د فقیر او مسکین څخه فقر او نیستي کمیږي او یا له منځه ځي او حاجتونه یې پوره کیږي . همدا راز د فقیر زړه له هغه کینې او حسد څخه پاکیږي چې د مالدارانواو غنیانو سره یې درلود.

۷- د زکات په ورکولو سره ټولنه د مختلف قسم مرضونو او مشکلاتو څخه پاکیږي: دا ځکه کله چې هر مسلمان د خپل مال زکات وباسي په ټولنه کې به دخلکو حاجتونه پوره شي او د ټولنې د افرادو ترمنځ به مینه او محبت زیات شي، له ټولنې څخه به دفقر ځادر ټول شي او د ټولنې څخه به ټولنیز مرضونه لکه غلا، اختطاف، حسد، بدبیني، بغض کم شي او د اړمنو خلکو ضرورتونه به تر یو حده پورې پوره شي او په ټولنه کې به خوشحالي او مینه زیاته شي.

## د زکاة د اداء کولو وخت:

د زکات د فرضیت یو شرط دادی چې باید په مال یو هجري قمري کال تیر شي ، کله چې په مال باندې کامل کال تیرشو ،نو زکات په کې فرض کیږي. خلک په مختلفو میاشتو کې زکاتونه ورکوي څوک یې په رمضان المبارک میاشت کې اداء

کوي او څوک يې د رجب المرجب په میاشــت کې اداء کوي .داچې د زیات وخت څخه د اکثرو مســلمانانو په منځ کې دا معمول ده چې خپل زکاتونه په رجب المرجب میاشــت کې اداء کوي چې دا ډیر ښــه عمل دی؛ ځکه چې رجب المرجب میاشت د څلورو عزتمندو میاشتو څخه ده .

په صـحیح البخاري او صـحیح مسـلم کې راځي چې نبي علیه السـلام دحجة الوداع په خطبه کې وویل: (إن الزمان قد استدار کهیئته یوم خلق الله السماوات و الأرض السنة اثنا عشر شهرا منها أربعة حرم ثلاثة متوالیات : ذو القعدة و ذو الحجة و المحرم و رجب مضر الذي بین جمادی و شعبان). متفق علیه

په تحقیق سره وګرځیده زمانه خپل اصلي شکل ته هغسې چې په کومه ورځ الله تعالی اسمانونه او ځمکه پیدا کړه . کال دولس میاشــتې دي ددې له جملې څخه څلور عزتمندې دي درې یو په بل پســې دي چې ذوالقعده، ذوالحجة او محرم دي او بله رجب ده چې رجب مضر ورته ویل کیږي چې د جمادي الثاني او شعبان ترمنځ واقع ده.

امام ابن رجب الحنبلي وايي (و اختلف في أي هذه الأشــهر الحرم أفضــل ؟ فقيل : رجب قاله بعض الشـافعية). چې په دې کې دعلماوو اختلاف دی چې ددې څلورو عزتمندو میاشتو ترمنځ کومه میاشت بهتره ده.د شوافعو ځینې علماء وايي چې رجب المرجب بهتره ده. لطائف المعارف (ص: ١٢٤)

له بیت المقدس څخه کعبې شریفې ته تحویل هم په رجب المرجب کې ترسره شــوی دی. علامه ســندي وايي:(وَكَانَ التَّحْوِيل فِي نِصْف شَهْر رَجَب مِنْ السَّنَة الثَّانِيَة عَلَى الصَّحِيح وَبِهِ جَزَمَ الْجُمْهُور). حاشية السندي على ابن ماجه (٢ /٣٦٨)

پر ځا چې زکاة فرض شي اداء کول يې علی الفور واجب دی او پرته له عذره انســان يې په تاخیر سره ګناهګاریږي. ( حاشية الطحطاوي على المراقي ص: ٤٦٨)

**د زکاة مقدار:**

په نغدي پیسو کې د زکاة معیار سره زر او یا سپین زر دي چې هرکله ځا سره ددوه سوه درهمو( سپین زر) د قیمت په اندازه پیســې وي او د قرض او حاجت اصـلیه نه زیاتی وي او کال ورباندې تیر شي زکاة ورباندې فرض دی چې ور يې کړي.

یا داچې له ځاسره د **(٢٠)** دینارو سرو زرو د قیمت په اندازه نغدې پیســې وي او قرض او دحاجت اصـلیه نه زیاتی وي کال ورباندې تیر شو،نو زکاة ورباندې فرض شو او باید زکاة يې ورکړي.

**د زکاة د وجوب نصاب**

| شماره | د زکات جنس | قدیم مقدار | د ګرام اندازه | قیمت په افغانۍ سره | مراجع |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | سپین زر | ٢٠٠ درهم | (٦١٢،٣٥) ګرام | تقریبا د کابل په نرخ(٤٠٠٠٠) | احسن الفتاوی |
| ٢ | سره زر | ٢٠ دینار | (٨٧،٤٧٩) ګرام | تقریبا د کابل په نرخ(٣٤٩٩١٦) | محمود الفتاوی |

**د زکات مستحقین:**

**د زکات مستحقین آته قسمه خلک دي چې الله جل جلاله په دې آیت شریف کې یاد کړي دي:(إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ) التوبة : ٦٠**

**ترجمه:- دا د زکاة مال یواځې د فقیرانو او مسکینانو لپاره دي او د هغو خلکو لپاره دي چې د زکات را ټولونکي وي او د هغو لپاره دي چې د هغوی زړونه په لاس راوړل مقصد وي. دغه راز دا د مریانو لپاره دي چې ځانونه پری آزاد کړي او د پوروړو د مرستې لپاره دي او د الله جل جلاله په لاره کې تلونکو لپاره دي ( مجاهدین او مسافر) زکات د الله له لوري یوه فریضه ده او الله تعالی په هرڅه پوهه او حکمت والا دی.**

**غنیانو او بنی هاشمو ته زکات ورکول جواز نه لري.**

**په قرآني آیتونو او دپیغمبر د آحادیثو له پلوه د زکات ورکولو کسان معلوم دي او پرته له دوی څخه بل چاته یا په بل ځای کې مصرفول یي جواز نه لري. د زکات مصرف په لاندې ډولونوکې منحصر دی او نوروته یې ورکول صحیح نه دي او هغوی دا دي :**

**۱- فقراء : د فقیر جمع ده : هغه چاته ویل کیږي چې دومره مال ولري چې د نصاب څخه کم وي او یا مال ولري خو په قرض کې مستغرق وي.**

**۲- مساکین: د مسکین جمع ده : هغه چاته ویل کیږي چې هیڅ شی ونلري او حالت یي له فقیر هم بدتر وي.**

**۳- العاملون علیها: یعنی هغه کسان چې د زکات په راټولو او د هغه په حساب او کتاب او مستحق ته د هغه په رسولو باندې حاکم مقرر کړی وي ، هغه ته د کار په اندازه ورکول کیږي ولو که غني هم وي.**

**۴-المؤلفة قلوبهم: دوی هغه کسان دي چې نبي علیه السلام به دوی ته میلان کولو او ددوی سره به یي مینه کوله ددې لپاره چې اسلام راوړي او یا ددوی شر دفع شي او یا داچې نیتونه یي قوي شي او په اسلام ثابت پاتې شي نو دوی درې ډوله خلک ؤ.**

**۵- وفی الرقاب: د دې څخه مکاتب غلامان مراددي ـــــ دوی هغه غلامان دي چې د خپلو بادارانو سره په دې اتفاق رسیدلي وي چې که چیرې مال بادار ته ورکړي دوی به آزاد کړي.**

**٦-الغارمون: د غارم جمع ده یعنی قرضدار چې دقرض د اداء کولو څخه عاجزه وي.**

**۷- وفي سبیل الله: دوی هغه فقیران مجاهدین دي چې د جهاد لپاره یي ځان وقف کړی وي.**

**۸- ابن السبیل: دهغه فقیر مسافر څخه عبارت دی چې د سفر تو بنه یې په سفر کې خلاصه شوې وي، نو باید دومره زکات ورکړ شي ، ترڅو دی خپل کورته پرې ورسیږي که څه هم په وطن کې مالداره وي.**

**په دې ټولو کې فقر شرط دی پرته له د زکات دعامل څخه. من: (نور الإیضاح (ص: ۱۳۳)**